عبدالغفور لېوال ۲۰۲۵/۱۱/۰۵

# پاکیستان څه لرل؟

## پاکیستان څه لري؟

په ۱۹۴۷ کې انګریزانو له هیند او افغانستان څخه پرېښلوکړای شویو خاورو یوه پوځي واکمنې جوړه کړه او نوم یې پرې کېښود پاکیستان. له هیندوستان څخه یې د بېلتانه لپاره دا توجیه وربرابره کړه، چې د هیند مسلمانان حق لري بېل هېواد ولري. هلته یې د کشمیر لانجه ناحله پرېښووده، چې د نوي زېږېدلي پاکیستان لپاره د پوځي ماهیت ورکولو نریواله پلمه جوړه شي او له افغانستان څخه بېلې کړای شوي خاورې یې څکه په دې جعلي پوځي قشله کې ځای کړې، چې د شوروي په وړاندې یې د پانګوالي نړۍ په سنګر بدل کړي.

دویمه نړیواله جګړه نوې پای ته رسېدلې وه او د لویدیځې پانګوالي نړۍ په وړاندې کومونیستي شوروي د یوه ګواښ په توګه سر راپورته کاوه، شوروي چې مخ په جنوب راښېښده، نو مخه یې د افغانستان په غرونو کې نیول کېدای شوه، څکه خو د دې مهمې جبهې ترشا پاکیستان ته پاملرنه کېده. د پاکیستان لپاره د یو څواکمن پوځ او استخباراتو جوړول اړین و، تر دې چې څو کاله د دغه هېواد د پوځ او استخباراتو مشري او قومانده د انګریزانو په لاس کې وه، مانا د پاکیستاني پوځ او پوځي استخباراتو مشران عملاً انګریزان وو. پاکیستان ژر د سیاتو او سېنټو غړی شو او د سړې جګړې په اوج کې د امریکا، عربو او ټول شوروي ضد پکټ په یوه نازولي بدل شو. د شوروي په ضد د جنګولو لپاره یې ایډیولوژیک مراکز وپرسول شول، لسګونه مذهبي فرقې په کې جوړې شوې او دې ټولو مذهبي فرقو په کشمیر او افغانستان جګړو کې خپل پوځي کندکونه لرل. په لسګونو زره مدرسې و معهدونه لګیاوو او ګوریلایي بنسټپالي(افراطي) جګړمار یې تولیدول، چې په هیند و افغانستان کې وجنګول شي. پاکیستان چې هغه مهال یې نږدې دوه سوه میلیونه نفوس لاره د همدې پوځي ټېکه‌داریو په اقتصاد روږدی شو، د جګړو په پیسو اټومي څواک شو او زېربناوې یې د پوځیانو په ملکیت بدلې شوې. لوی کاروبار د پوځیانو یا د پوځ د سیاسي شریکانو په لاسونو کې و. د پنجاب له کرنیزو زمکو رانیولې، تر عسکري میلونو، وسپنې ویلولو فابریکو، عسکري سیمینټو، زرګونو کالونیو او شتمنیو پورې ټول د پوځ ملکیتونه دي. هرکله به چې ملکي حکومت د پوځ ستراتیژیکو – اقتصادي ګټو یا سیاسي اقتدار ته ګوتې وروړې مارشالا به اعلان شوه او پوځ به واک په لاس کې واخیست. په پاکیستان کې سیاسي ګوندونه ټل د پوځ او استخباراتو په امر او حکم چلېدل.

پاکیستان د پانګوالي نړۍ نازولی و. چین هم، چې له شوروي سره مخالف و او د پاکیستان په ګاونډ کې یې خپلې ګټې لرلې، د شوروي په وړاندې د ګاونډي سنګر په توګه له بلې خوا پرپاکیستان مهربانه شو.

د شوروي تر سقوط پورې د پاکیستان د بخت ستوری څکه ځلېده، چې په جنوبي اسیا کې د شوروي ضد پانګوالي نړۍ نیابتي سنګر ګڼل کېده.

شوروي سقوط شوه او پر پاکیستان نړیواله مهرباني مخ په کمېدو وه، خو دا مهال په افغانستان کې کورنۍ جګړه نښتې وه او پاکیستان روزلیو په کې واک چلاوه. دا مهال نو د افغانستان په شتمنیو د پاکیستان چور ګډ شو او څه چې په افغانستان کې بودېدل پاکیستان لکه زنځه وزبېښل، لا د افغانستان د هډوکو له شپېلولو وزګار نه‌و، چې د ترورېزم په ضد د نړیوالې جګړې نوې ډرامه پیل شوه او د پاکیستان غوا بیا لنګه شوه. په افغانستان کې یې د یوې بلې جګړې ټېکه واخیسته او دا ځلې یې ماموریت دا و، چې هم نړیوالو ځواکونو ته د اکمالاتو لاره ورکړي او هم د نړیوالو ځواکونو په ضد جنګېدونکیو وسلوالو ته ځالې جوړې کړي. او د دغې ډرامې له دواړو اړخونو څخه ګټه واخلي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

زړې مدرسې يې بيا ډکې کړې او د لويديځ وسلې و پيسې پرې راخوشې شوې. له دې جګړو څخه هدف دا و، چې پخواني پوځي و مذهبي اورپکي په نويو جوړښتونو کې د نيابتي ترهګرو ډلو په حيث وروزل شي او بيا په منځنی ختيځ، منځنی اسيا، روسيه او نورو سيمو کې وجنګول شي. داعش او لسګونه نورې ډلې د همدغې ډرامې له لړمې څخه وزيږېدې. لړمه مې ځکه ياده کړه، چې وايي: د لړمې بچيان ترزيږېدا روسته خپله مور خوري، د لړمې دغو نويو بچيانو د دې ترڅنګ چې پخوانۍ جهادي ډلې وخوړلې، خپله اصلي مور پاکيستان يې هم په کراره پرېښوده او اوس چې د انګريز دغې زړې لړمې کوم بچيان زيږولي وو له دې څخه يې هم چيغې ايستلې دي. پاکيستان په دې ټوله لوبه کې درې موخې پرمخ وړې. د هيند په وړاندې ترهګره لوبه، د افغانستان په وړاندې ستراتيژيک عمق او فارورډ پاليسي (څښنده وړاندې راتلل) او په کور دننه د هرډول مخالفت ځپل.

خو داسې ښکاري، چې د روسيې و يوکراين له جګړې راپه دې خوا نړۍ بدله شوې او نورې په زړو وياللو کې اوبه نه بهيږي. پاکيستان د خپل وجودي منطق له مخې هغه نازدانګۍ و اهميت نه لري، چې شپېته اويا کاله يې درلود. پاکيستان له يوه فاسد سيستم او نږدې دوه‌نيم سوه ميليونه نفوس سره په ميدان پاتې شو او پوځ يې چې اويا کاله يې پاکستان زبېښلی و، هم چې له بهره پيسې پرې بندې شوې، د پاکيستانيو له وينو څخه يې زبېښاک پيل کړ، داسې زبېښاک چې په دغو ګټو يې خپلو کې هم شخړه پېښه شوه.

له تېرې يوې لسيزې څخه د پاکيستان اقتصادي وضعيت راپړيوت او مفلس پاکيستان له ټولې نړۍ پوروړی په ميدان پاتې شو. د چين يو کمربند يوه لاره همداسې افسانه پاتې شوه، امنيتي پېښو او د بلوڅو سرمچارو يرغلونو چينايان وډار کړل. که څه هم پياوړی پوځ، استخباراتي سيستم او انګريز جوړ کړي استبلېشمينټ يې لاهم د دغه جعلي هېواد د ساتنې لپاره مقاومت کوي، خو دا مقاومت پايښت نه‌شي لرلای، مګر دا چې کومه بله لويه نړيواله حادثه پېښه شي او پاکيستان د کومې بلې سياسي مذهبي جګړې ټيکه واخلي.

پاکيستان نه پخوا ملت درلود او نه يې اوس لري، د سرې جګړې پرمهال يې څلور لوی قومونه د نړۍ د پيسو او وسلو په زور ګواښل او تر پوځي ډار لاندې يې ساتل، چې اوس يې نور د ساتنې وس نه لري. بلوڅان خپلواکي غواړي، پښتانه ورسره جنګيږي، ګلګيت بلتستان ناارامه دی، سېند فکر کوي، چې دويمه درجه اهميت لري، کشميريان نور پوهېدلي چې بې له هينده يې نه‌رغيږي.

پاکيستان له اقليمي وچېدا سره هم مخ دی. که هيند پر پاکيستان د اوبو بهير همداسې وچ وساتي و افغانستان د خپلو ختيځو آبي حوزو د مديريت وس ومومي پاکيستان له تندې سوزي.

پاکيستان په خپل ټول تاريخ کې خپله تر ټولو خطرناکه وسله له لاسه وتلې ګڼي او هغه د دين په نامه په خپلو ګاونډيو کې د جګړو جوړول دي. داسې ښکاري چې د جهاد د فتوا مرکزيت اوس له پاکيستان څخه افغانستان ورخپل کړی وي. پاکيستان چې اوس پخپله د جهادي ډلو له جهاد سره مخامخ دی او هره ورځ يې خپله زيږولې مذهبي ډلې په ښارونو کې وحشتونه ورپنځوي، نه‌يوازې د افغانستان، بلکې حتی د هيند په وړاندې هم جهادي - مذهبي کارت کارولای نه‌شي، ځکه هغه هېواد چې تر ټولو سرسپارلي مجاهدين يې اوس د خپل پوځ او حکومت په وړاندې جهادي مبارزه پرمخ وړي، څنګه کولای شي، بل هېواد ته مجاهدين وروزي؟

پاکيستانيانو پخوا ويل:
موږ دوه اټومي ځواکونه لرو، لومړی؛ اټوم بم او دويم مذهبي – جهادي مدرسې و فتواوې. پاکيستان به ويل: دا موږ يو چې پرېکړه کوو، د اسيا، بلکې د نړۍ په کوم ځای کې بايد جهاد وشي. اوس د جهادونو د اعلان منبر پخپله د پاکيستان په ضد کارول کيږي. او پاکيستان د دې ايډيولوژيک اټوم بم له زوره ډېرښه خبر دی، ځکه خو يې له افغانستان سره د جګړې و مذاکرې چرګې توده کړې او له هرتربيون څخه چيغې وهي، سهار کابل ته راځغلي، غرمه دوحې ته مازيګر استانبول يا رياض ته.

پر عمران خان تر پوځي کودتا او د هغه تر زنداني کېدو روسته د پاکيستان په ټول تاريخ کې لومړی ځل د دغه هېواد پوځ خپلو کې سره وويشل شو، ويل کيږي، چې دغه ويش اصلاً پر ګټو او اقتصادي ملکيتونو دی، خو دوه نورې ريښې هم لري، لومړی يې د عمران‌خان د تحريک انصاف او نورو پارټيو ترمنځ ناندرۍ دي او دويمه ريښه يې په نړيوال سياست کې له امريکا و چين سره د ستراتيژيکو مناسباتو جوړول دي. په پوځ، سياستونو او ستراتيژيستانو کې صفونه سره بېل شوي دي، ځينې يې وايي امريکا ښه انډيوال ده او نور يې وايي نه، چين د باور وړ دی. د لومړي ځل لپاره داسې ښکاري، چې چين و امريکا دواړو پاکيستان ته ويلي، چې بايد خپله روستۍ پرېکړه وکړي، ځکه: په سينه يو لالی ځايږي...!


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

پاکیستان چې د بلوڅو له بېلتون‌پالنې، د پښتنو له سراسري مخالفت او نورو لړکيو له خپګانه ځوریږي، خپل ملي روایت هم بایللی. هغه ملي روایت چې د هند په وړاندې یې د کشمیر راخپلولو لپاره کاراوه.

بله ستونزه د دویم اټم بم ( ایډیولوژیک لښکر) فضله پاتې شوني دي. پاکیستان په ټوله سیمه کې د افراطي کولو او راډیکالیزم کارخانې وچلولې. په سلګونه افراطي وسله والې ډلې یې جوړې کړې. اسناد ښیي، چې په افغانستان، هند، چین، منځنۍ اسیا، منځنې ختیځ په تېره عراق و سوریه، د افریقا شما او نورو سیمو کې د ټولو دیني اورپکو لکۍ په پاکیستان پورې غوټه وه. دغه ډلې و تنظیمونه هماغومره چې په نړۍ کې د پاکیستان د ګټو لپاره جنګول کېدل یا یې جګړې پاکیستان په ټيکه اخیستې، هماغومره یې د پاکیستان په خاوره کې نوي نسلونه هم تر اغېز لاندې راوستل. ختم نبوت، شیعه – سني لانجې، تحریک لبیک، سلفي، پنجپیري، اهل سنت و الجماعت، مودودیان، صوفیان، دیوبندیان، احمدیان و طالبان ټول لګیا دي بس ټوپک چلوي او خلک وژني.

ولږه، وزګاري او د اینرژۍ بحران یې لا سرباری.
پاکیستاني سیاسي پارټیو خپله کاریزما بایللې، مسلم‌لیګ نور د شېبته یا اویا کلونو وړاندې مسلم لیګ نه دی، د خلکو پارټۍ یې بې‌مشره ده، نشنلیستي صوبایي پارټۍ له بدترین برخلیک سره مخامخ دي، ځکه نه پنجاب ته د منلو دي او نه یې خلکو ته.

عمران خان چې لا یو کاذبه کاریزما جوړه کړې وه، په زندان کې پروت دی. د پخوانیو میراثي پارټیو فوسیلونه په دې هېواد کې ثبات راوستلای نه‌شي.

ښايي لوستونکي به فکر کوي، چې نو په دومره ګډوډۍ کې څنګه لا دغه هېواد ژوندی پاتې دی؟ په دې کې شک نه‌شته چې پوځي استبلېشمېنټ لا د پاکیستان یوازینی بنسټ دی، چې د خپلو ګټو او اقتدار ساتنې لپاره هېواد ساتي. پوځیان پوهېږي، چې د دوی وجود له پاکیستان سره تړلی دی او که پاکیستان نه وي، نو د دوی بې‌تخت و تاجه سلطنت به هم رنګ شي، له بلې خوا نړیوالې سیالۍ هم داسې دي، چې پاکیستان لا تمه لري، چې دوی روزلې و ساتلې ترهګرې ډلې به د چا په ګټه په ټیکه واخیستل شي. له سعودي عربستان سره یې ستراتیژیک تړون له همداسې هڅوڅخه وه او په شرم‌الشیخ کې خو یې ټرمپ ته د پاکیستاني صدراعظم غوا‌ړه‌مالیو دونیا وشرموله. د پاکیستان لاهم د نړۍ د لویو سیالانو په ګټه په ټیکه ورکولو لپاره ډلې لري، خو مشکل یې دا دی، چې اوس یې په ګرم مارکېټ کې څوک نه‌اخلي.

یو بل بخت چې له پاکیستان سره ملګری شوی، هغه په افغانستان کې د «ملي» مفهوم او «ملتپالنې» ځپل دي، چې همدا اوس یې له دې ناحیې غوړونه په کرار دي.

پاکیستان اوس نه نړۍ ته نازولی پوځ لري، نه محراب، نه دا شعار چې : « پاکیستان کا مطلب کیا؟ لا....»
دواړه اټومي وسلې (ایډیولوژیکي و فیزیکي) یې داسې دي، لکه تشې تومانچې، چې هم خپله ترې ډارېږي او هم هغه څوک چې ورته نیولې یې دي. لکه هغه مینځه چې د غلامانو په مارکېټ کې خرڅلاو ته وړاندې شوې وي، که د ترهګرۍ په سینګار خرڅه شوه، خو ښه او که نه په همدې مارکېټ کې به له لوږې ومري.

بلوڅان نور پرځای نه کیني. او پښتانه که یوازې و یوازې د حورو لپاره د جنګېدو پرځای د وطن و ملت لپاره جګړې ته مخه کړي، نو د ګړنګ پرغاړه دغه ولاړ هیولا راپرېوتلې بویه.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ